اونیزه مجله :353
WEEKLY BOOKLET:353

# آیا تنګ لاسي هم نعمت دے؟

PASHTO



- انسان څۀ د پاره پیدا کړے شو
- پۀ خنګل کښې د خوړو او شالو خواهش
- د تنګ لاسي، پۀ شکایت کوونکي باندې انفرادي کوشش
- دوه ځیږونه خلمي وي


شیخ طریقت، امیرِ اهلسنّت بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# آیا تنګ لاسي هم نعمت دے؟ [1]

دُعائے عطّار: یا رَبَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله " **آیا تنګ لاسي هم نعمت دے؟**" ولولي یا واوري، د هغهٔ تنګ لاسي ختمه کړې، د هغهٔ پهٔ حلال رزق کښې برکتونه واچوې او هغهٔ سره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښې- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د خوږ آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې پهٔ ما باندې یو ځل درودِ پاک ولولي، اللّٰه پاک پهٔ هغه باندې لس رحمتونه نازلوي او څوک چې پهٔ ما باندې لس کَرَته دُرُودِ پاک ولولي، اللّٰه پاک پهٔ هغه باندې 100 رحمتونه نازلوي او څوک چې پهٔ ما باندې 100 کَرَته دُرُودِ پاک ولولي، اللّٰه پاک د هغه د دواړو سترګو ترمینځه لیکي چې دا بنده د نفاق او

---

[1] ---- د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اسلامي د باني امیر اهلسنّت دامت بَرَكَاتُهمُ العالیه شوي مختلف آډیو بیانونه پهٔ لیکلي شکل کښې د "**فَیضانِ بیاناتِ عطار**" پهٔ نوم الـمدینة الـعلمیه (اسلامک ریسرچ سنټر) د شعبه "**بیاناتِ امیرِ اهلسُنَّت**" له خوا د ترمیم او زیاتوالي سره وړاندې کړے شول- **اَلْحَمْدُ لِلّٰه الکریم!** پهٔ هغه بیانونو کښې اوس شعبه "**هفته وار رساله مطالعه**" یو بیان "آیا تنګ لاسي هم نعمت دے؟" د رسالې پهٔ شکل کښې پیش کوي-

د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به د قیامت پهٔ ورځ د شهیدانو سره ساتي- (معجم اوسط ، 252/5، حديث: 7235)

شافِعِ روزِ جَزا تم پہ کروڑوں دُرُود دافِعِ جُملہ بَلا تم پہ کروڑوں دُرُود
(حدائقِ بخشش، ص 264)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! كه مونږ خپلې معاشرې ته نظر وکړو نو مونږ ته به اندازه وشي چې دا خاورینه زمکه، شین اسمان، شاړه دشته، شین میدان، ښکلي باغونه، شنه پټي، ښائسته ګلونه، بهیدونکي نهرونه، راوتلې چینې، پرقیدونکي ستوري، مختلف قِسمه میوې، ښکلې سپوږمۍ، روښانه نمر، جواب نه لرونکي معدنیات، مختلف جمادات او بے شمیره حیوانات د انسان د فائدې د پاره دي یعني دا ټول څیزونه د انسان د پاره جوړ کړے شوي دي، پهٔ قرآنِ کریم کښې الله پاک ارشاد فرمائي:

﴿هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا ۗ﴾ (پ 1، البقرة: 29)

"ترجَمهٔ كنزُ العرفان: [الله] هغه دے چا چې څهٔ پهٔ زمکه کښې دي ټول ستاسو د پاره جوړ کړل-"

د دې آیت مبارک لاندې پهٔ تفسیرِ صِراطُ الجِنان کښې دي: ټولو انسانانو ته ووفرمائیلے شول چې پهٔ زمکه کښې چې څهٔ هم دریابونه، غرونه، درنګونه، پټي، سمندرونه وغیره دي هر څهٔ الله کریم ستاسو د دیني او دنیائي فائدې د پاره جوړ کړي دي- دیني فائده خو دا ده چې د زمکو عجائباتو لیدو سره ستاسو د الله کریم د حِکمت او قُدرت مَعرِفَت

(يعنې پيژندګلو) نصيب شي او دنيائي فائده دا ده چې د دُنيا څيزونه خورئ څښئ او په خپل کار يـې راولئ تر څو پورې چې د اللہ کريم د طرف نه څۀ منع نه وي- نو د دې نعمتونو باوجود تاسو د اللہ کريم نه څنګه انکار کولے شئ؟ د دې آيت نه معلومه شوه چې د کومو څيزونو نه اللہ پاک منع نه ده فرمائيلې هغه زمونږ د پاره مُباح (يعنې جائز) او حلال دي- ( تفسير صراط الجنان، پ 1، البقرة تحت الآیة: 29، 1/ 94)

بيا د غور خبره دا ده چې ټول کائنات خو د انسان د پاره پيدا کړے شول، بيا انسان د څۀ د پاره پيدا کړے شوے دے؟ د دې پوښتنې جواب اللہ کريم په قرآنِ پاک کښې څۀ داسې ارشاد فرمائيلے دے:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ﴾ (پ 27، الذّٰريٰت: 56)

"ترجمهٔ کنزُ العرفان: او ما پيريان او انسانان دې د پاره پيدا کړل چې زما عبادت وکړي-"

د دې آيت مبارک لاندې په تفسير صِراطُ الجنان کښې دي: ارشاد يـې ووفرمائيلو چې ما پيريان او انسانان صرف د دُنيا د طلب کولو او په دې طلب کښې د ورکيدو د پاره نه دي پيدا کړي بلکې دوئي مې دې د پاره پيدا کړي دي چې دوئي زما عبادت وکړي او دوئي ته زما معرفت (يعنې پيژندګلو) حاصله شي- ( تفسير صاوى، پ 27، الذّٰريٰت، تحت الآية: 56، 2026/5) د دې آيت نه معلومه شوه چې انسانان او پيريان بے کاره نه دي پيدا کړے شوي بلکې د دوئي د پيدائش اصلي مقصد دا دے چې دوئي د اللہ پاک عبادت وکړي- ( تفسير صراط الجنان، پ 27، الذّٰريٰت، تحت الآية: 56، 511/9)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د دې آيت مبارک د تفسير نه د انسان د پيدائش مقصد واضحه شو چې انسان رَبِّ کريم د خپل عبادت او پيژندګلو د پاره پيدا کړے دے خو افسوس چې نن مونږ د خپل ژوند مقصد چې لکه هير کړے وي ځکه چې کومه دُنيا زمونږ د پاره د امتحان حيثيت لري، مونږ د دې په محبت کښې داسې ورک شو چې هم دا مو د خپل ژوند مقصد ګرځولے دے- شايد چې مونږ دا ګڼلې ده چې مونږ د مال او دولت جمع کولو د پاره پيدا کړے شوي يو- د مال او دولت حِرص دومره په زړۀ باندې غالب شوے دے چې بنده په لږ وخت کښې د مالداره کيدو خوبونه ويني چې اے کاش چې پينځه لاکهه روپو انعام مې راوځي، اے کاش چې د لسو روپو په ټکټ باندې مې درې لاکهه روپۍ انعام راوځي- تر دې چې د مالداره کيدو نشه يـې په ذهن دومره سوره وي چې دا د جوارۍ په شان د بد خيز عادت شي، د مال دولت زياتولو د پاره دے د حلالو او حرامو پروا نه کوي، د دۀ سره بس هم يو فِکر وي چې "پيسه وي که هغه هر څنګه وي-" لهٰذا که يو مسلمان په داسې قِسمه کارونو کښې اخته وي او تاسو ګڼئ چې دے به پوهه کړم نو وه به يـې منې نو په دۀ باندې په شفقت سره انفرادي کوشش وکړئ، دۀ ته د مال د تباهۍ په باره کښې ووايئ، دے د حِرص او د لالچ د نقصانونو نه خبر کړئ، دۀ ته د سُنَّتو په اجتماعاتو او مَدَني مذاکرو کښې د شرکت کولو دعوت ورکړئ بلکې د ځان سره يـې راولئ او په مَدَني قافلو کښې پرې سفر وکړئ خو عام طور دا کتلے شوي دي چې داسې قِسمه خلق

خوک پوهه کوي نو دوئي پۀ توجه سره د خبرې اوريدو پۀ ځائے د غافلانو پۀ شان اخوا ديخوا ګوري او سر ګروي- ياد ساتئ! هسې نه چرته تاسو حوصله بائيلے او دوئي وه رټے يا ورته ستغې سپورې ووايئ يا انفرادي کوشش پريږدئ، لهٰذا حوصله مۀ بائيلئ او پۀ نرمے او محبت سره انفرادي کوشش جاري ساتئ- د الله پاک د رحمت نه اُميد دے چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! يوه ورځ به د دوئي پۀ زړۀ هم اثر وشي او دوئي به هم د خپلو بدو ارادو نه توبه کړي او د صلوٰة او سُنَّت پۀ لار به روان شي- ياد ساتئ چې بعضې وخت شيطان لَعِين د تنګ لاسے نه ويروي او د حلالو او د حرامو پروا کولو بغير د ښه ډير مال او دولت جمع کولو د پاره لمسوي خو پۀ داسې حالت کښې تاسو د الله پاک پۀ ذات باندې باور ساتئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! شيطاني وسوسه به لرې کيږي او د تنګ لاسے ويره به ختميږي- پۀ دې باره کښې د يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه واقعه واورئ او د ځان د پاره د الله پاک پۀ ذات باندې د باور کولو ذريعه جوړه کړئ-

## پۀ ځنګل کښې د غوړو او شاتو خواهش

يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ يو ځنګل کښې وو چې شيطان هغوئي ته وسوسه ورواچوله: ”ستا سره زادِ راه [يعني د سفر سامان] نشته دے او دا ځنګل هلاکوونکے دے، دلته نۀ ابادي شته او نه خوک انسان-“ نو هغوئي هم اراده وکړه چې هغوئي به د دې ځنګل سفر بغير د سفر د سامان نه کوي او پۀ عامه لاره به نه ځي د پاره د دې چې خوک انسان مخې له ورنشي او يخپله به هيڅ هم نه خوري تر دې چې د هغۀ پۀ خُله کښې غوړي او شات

واچولے شي- بیا هغهٔ د لارې نه پهٔ بَل اړخ د خپل منزل پهٔ لور روان شو- فرمائي چې الله پاک خومره غوښتله زهٔ روان ووم، بیا ما وکتل چې د یوې قافلې نه لار ورکه شوې ده او راروانه ده، ما چې هغه ولیدله نو پهٔ زمکه سملاستم د پاره د دې چې قافلې والا ما اونه وینې خو هغوئي راروان وو تر دې چې زما خوا له راورسیدل، ما سترګې پټې کړې وې- هغوئي ما ته رانزدې شول او اوئې وئیل: معلومیږي چې د دهٔ سره د سفر سامان ختم شوے دے او د لوږې تندې د لاسه بے هوشه شوے دے، د دهٔ پهٔ خُله کښې غوړي او شاتورواچوئ کیدے شي چې دے پهٔ هوش کښې راشي- بیا هغوئي غوړي او شات راوړل نو ما خپله خُله او غاښونه مضبوط بند کړل نو هغوئي چاړه راوړه او زما خُله یې پهٔ زوره برسیره کول غوښتل نو زهٔ پهٔ خندا شوم او خُله مې برسیره کړه، دا یې چې ولیدل نو هغوئي ووئیل: آیا ته لیونے یې؟ ما ووئیل: هیڅکله هم نه او ټول تعریفونه الله پاک لره دي- بیا ما هغوئي ته د شیطاني وسوسې والا واقعه بیان کړه-

(مختصر منهاج العابدین، ص 116)

اے د اولیاؤ عاشقانو! دا هم د بزرګانِ دِین رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡهِم حصه وه چې هغوئي به د اسبابو اختیارولو بغیر صرف پهٔ الله پاک باور کولو او خپل سفر به یې جاري ساتلو او د شیطان لَعِین د وسوسو د مقابلې د پاره به تیار اوسیدل خو زمونږ د پاره دا حُکم دے چې مونږ پهٔ الله پاک باندې باور وساتو او اسباب هم اختیار کړو- د دې واقعې نه دا هم معلومه شوه چې مخکښې به خلقو شات ډیر استعمالول- اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د شاتو تعریف او د دې

ذِکر پۀ قرآنِ کریم کښې هم موجود دے پۀ څوارلسمه سیپارۀ سورۀ نحل آیت نمبر 69 کښې الله پاک ارشاد فرمائی:

يَخْرُجُ مِنْۢ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ

ترجمۂ کنز العرفان: اس کے پیٹ سے ایک پینے کی رنگ برنگی چیز نکلتی ہے اس میں لوگوں کیلئے شفا ہے۔

د دې آیت مبارک لاندې پۀ تفسیر صِراط الجِنان کښې دي: د دې د خېټې نه د څښلو یو څیز یعني شات، د سپین، زیړ او سور رنګ ووځي، پۀ دې کښې د خلقو د پاره شفا ده او دا پۀ نفع رسوونکو دوایانو کښې ده او پۀ کثرت سره پۀ معجون کښې شاملولے شي۔

(تفسیر صراط الجنان، پ 14، النحل، تحت الآیۃ: 69، 5/ 346 ،347)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! شات استعمالول سُنَّت دي۔ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به شات خوښول، پۀ حدیثِ پاک کښې دي: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ الْحَلْوَآءُ وَالْعَسَلُ یعني نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خوږ څیز او شات خوښول۔ (بخاری، 17/4، حدیث:5682)

دغه شان به د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کدو هم ډیر خوښ وو، پۀ تفسیرِ صِراطُ الجنان کښې دي: کدو به تاجدارِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیر زیات خوښولو، لکه څنګه چې حضرت اَنس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به کدو شریف خوښولو۔ (ابن ماجہ، 27/4، حدیث: 3302) یو ځل یو کَس عرض وکړو: "یَا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو کدو شریف ډیر زیات خوښ وي؟" رسولِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائیلو: آؤ، دا زما د وړور حضرت یونس

عَلَیْهِ السَّلَام وَنه ده- (تفسیر بیضاوی، پ 23، الصافّات، تحت الآیة: 146، 27/5) هم داسې بهٔ صحابهٔ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان او بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهِم هم کدو ډیر زیات خوښولو، حضرت اَنس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بیانوي: یو درزي [Taylor] رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د ډوډۍ دعوت ورکړو، زهٔ هم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره لاړم، د وربشو ډوډۍ او خوروا د حضورِ اَقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې پیش کړے شوه پهٔ کومه کښې چې کدو او وچه کړے شوې نمکینه غوښه وه، د خوراک پهٔ وخت ما حُضورِ اَقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته وکتل چې د لوښي پهٔ غاړو د کدو ټکړې لټوي، ځکه زما د هغې ورځ نه کدو خوښ دے- (بخاری، 17/2،حدیث: 2092) حضرت ابو طالوت رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زهٔ د حضرت اَنس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خوا ته حاضر شوم، هغوئي کدو خوړلو او فرمائیل یې: اے وَنې! ستا څومره ښکلے شان دے، تهٔ زما څومره خوښه یې، (او دا محبت صرف) ځکه (دے) چې رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ستا سره محبت کولو- ( ترمذی، 336/3، حدیث: 1856)

## د کدو طِبّي فائدې

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د طِب پوهانو د کدو شریف ډیرې زیاتې طِبّي فائدې هم بیان کړې دي، راځئ! 7 طِبّي فائدې واورئ: ﴿1﴾ پهٔ کدو کښې موجود قدرتي وټامن سي، سوډیم، پوټاشیم او فولاد بدن ته طاقت ورکوي او د دې روزانه استعمال د خیټې د مختلفو مرضونو خلاف اثرناکه حفاظت هم کوي- ﴿2﴾ د کدو د اَجزا تاثیر قدرتي طور یخ وي کوم چې د ګرمۍ د اثر کمولو سره سره د ستومانۍ احساس هم کموي- ﴿3﴾ د کدو خوړلو سره ښه ډیره

لوړه راځي او کمزوري ختميږي- ﴿4﴾ د قبض د مريضانو د پاره کدو ډير فائده مند دے- ﴿5﴾ کدو د ځيګر په درد ختمولو کښې فائده مند دے- ﴿6﴾ د مِتيازو په مرضونو، د معدې په مرضونو او د يرقان (زيړ، JAUNDICE) په مرض کښې فائده ورکوي- ﴿7﴾ د دې د تخم تيل د سر د درد او د سر د ويښتو د پاره ډير فائده مند دي او خوب راولي-

( تفسير صراط الجنان، پ 23، الصافات، تحت الآية: 146، 351/8)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** اوس مونږ واوريدل چې کدو شريف زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پيروۍ کښې به بزرګانِ دِين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم هم دا په شوق سره خوړلو- لهٰذا مونږ له پکار دي چې مونږ هم کدو شريف په خپل خوراک کښې شامل کړو، زمونږ خو بس ذهن هم دا پکار دے چې څۀ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښ دي هغه زمونږ هم خوښ دي او څۀ چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښ نه دي هغه زمونږ هم نه دي خوښ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کدو شريف سره د خپلې خوښې اظهار فرمائيلے دے نو مونږ له هم کدو شريف خوښول او دا د سُنَّت په نيت په شوق سره خوړل پکار دي- زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سندرې خوښې نه دي نو زمونږ هم خوښې نه دي- بهر حال که مونږ په دې اُصولو په خپل ژوند کښې عمل وکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! کاميابي به مو نصيب شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د بزرګانِ دِين رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم به د رَبِّ کريم پهٔ ذات باندې کامل ايمان وو، دا حضرات به د تنګ لاسۍ نه نهٔ ويريدل، لوږې به يې تيرولې نو الله پاک به د دوئي مدد کولو، لهٰذا **اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** تنګ لاسي راځي خو مونږ له د دې نه ويريدل نه دي پکار- د تنګ لاسۍ د ويرې ختمولو د پاره د بزرګانِ دين رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم واقعات لولئ او اورئ- ياد ساتئ چې دا مُشاهده ده چې څوک د دُنيا نه لرې تښتي دُنيا ذليله کيږي او د هغه ښپو له راځي- مونږ له د دُنيائي منصب او مال او دولت د حاصلولو کوشش کوونکو نه سبق اخستل پکار دي څوک چې د يو سيټ ګټلو د پاره ډير زيات کوشش کوي خو بعضې د دې نه مخکښې مړه شي- ياد ساتئ چې د دولت نشه ډيره خطرناکه ده، د نبيِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”دُنيا د هغه چا کور دے د چا چې څهٔ کور نه وي او د هغه چا مال دے د چا چې څهٔ مال نه وي او د دې د پاره يې هغه جمع کوي پهٔ چا کښې چې عقل نه وي-“ (شعب الايمان، 375/7، حديث: 10638) مونږ له پهٔ دُنيا، د دُنيا پهٔ مال او د دُنيا پهٔ منصب پسې د منډو وهلو، د تنګ لاسۍ نه د ويريدو، د کمو وسيلو او غريبۍ ګيلو معنو کولو پهٔ ځائے د صبر او قناعت او تَوَکُّل عَلَي الله والا ژوند تيرول پکار دي چې هم دا مونږ ته زمونږ بزرګانِ دِين رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم ښودلي دي- راځئ چې پهٔ دې لړ کښې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د انفرادي کوشش يو ډيره ښکلې واقعه واورو او نصيحت ترينه حاصل کړو-

## د تنګ لاسۍ په شکایت کوونکي باندې انفرادي کوشش

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: په ساداتِ کرامو کښې يو صاحبزاده د غربت ښکار وو- هغهٔ زما خوا له تشريف راوړلو او د خپلې غريبۍ شکايت يـې وکړو- يوه ورځ چې کله هغهٔ ډير پريشانه وو ما هغوئي ته ووئيل: ځويه! دا ارشاد ووفرمايئ چې يوې زنانه له پلار طلاق ورکړے وي نو آيا هغه د ځوي د پاره حلاله کيدے شي؟ هغوئي ووفرمائيل: نهٔ- ما ووئيل: يو ځل ستاسو جَدِّ اعلیٰ اميرُ المؤمِنين حضرت علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په تنهايۍ کښې په خپل مخ مبارک باندې لاس راښکل او ارشاد يـې ووفرمائيلو: اے دُنيا! بَل چا له دهوکه ورکړه، ما تا له داسې طلاقونه درکړل په کوم کښې چې چرې هم رَجعَت (يعني واپس ګرځيدل) نشته- شهزاده صاحبه! آيا د دې قول نه پس هم د ساداتِ کرامو په غريبۍ او تنګ لاسۍ کښې اخته کيدل د حيرانتيا خبره ده! هغهٔ ووئيل: وَاللّٰه (يعني په الله پاک مې دې قسم وي!) ستاسو دې خبرو ما له د زړهٔ سکون راکړو- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې نه پس شهزاده چرې هم د خپلې غريبۍ ګيله ونکړه-

(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 162 ملخصاً)

زَباں پر شکوۂ رنج و اَلَم لایا نہیں کرتے　　نبی کے نام لیوا غم سے گھبرایا نہیں کرتے

اے د امام احمد رضا عاشقانو! د دې واقعې نه معلومه شوه چې چرې هم د سختو حالاتو او تنګ لاسۍ نه ويريدل او پريشانه کيدل نه دي پکار- کاميابي د دُنيائي مال او دولت په کثرت کښې نه بلکې د الله کريم په رضا باندې په راضي کيدو کښې ده- دا هم معلومه شوه چې کله د يو اِسلامي

ورور د اِصلاح ضرورت شي نو ډير پۀ حکمت سره د هغۀ د مرتبې او مقام د خيال ساتلو سره د نيکۍ دعوت ورکول پکار دي لکه څنګه چې زمونږه اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پۀ سَيِّد زاده باندې انفرادي کوشش وکړو او د هغوئي اصلاح يې وکړه، څۀ داسې لفظ يې اونه وئيلو پۀ کوم چې هغۀ وشرميدو او نه يې سخته لهجه استعمال کړه- الله پاک دې مونږ ته هم پۀ ښکلي انداز کښې د نيکۍ د دعوت عام کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ياد ساتئ چې داسې تنګ لاسي ضرور د الله پاک يو لوئي نعمت دے کومه چې د ګناهونو نه د منع کيدو سبب جوړه شي او د الله پاک د ياد نه غافله نه کړي او بنده پۀ صبر او شُکر ژوند تير کړي- خو افسوس چې بعضې نادانه خلق چې پۀ تنګ لاسۍ کښې اخته شي نو د صبر نه کار نه اخلي او ګيلې معنې کوي او د رَبِّ کريم ناشُکري او نافرماني شروع کوي او بعضې نه ويريدونکي خو مَعَاذَاللّٰه! د کُفر جملې د خُلې نه اوباسي- پۀ تنګ لاسۍ او محتاجۍ کښې اخته انسان له پکار دي چې هغه د الله پاک پۀ بارګاه کښې د داسې تنګ لاسۍ نه پناه غواړي کومه چې پۀ هغه ګيلې معنې، د رَبِّ کريم ناشکري او نافرماني او د کُفر جملې وائي او د ايمان د بربادۍ سبب جوړيږي-

مکرِ شيطان سے تُو بچانا ساتھ ایماں کے مجھ کو اٹھانا
نَزع میں دِیدِ بدرُ الدُّجیٰ کی میرے مولیٰ تُو خیرات دیدے
(وسائلِ بخشش، ص 128)

غریب او تنګ لاسے او مِسکین انسان که پۀ خپله غریبئ او تنګ لاسئ باندې صبر، صبر او صرف صبر وکړي او د خلقو پۀ مخکښې ګیلې معنې نه کوي او د بے صبرئ مظاهره نه کوي نو د هغۀ ډیر زیات ثواب کیږي- غریب ځکه هم پۀ فائده کښې دے چې د هغه سره د ګناهونو دنیائي سهولتونه، آلات او اسباب او وسیلې نه وي خو د مالدارو او د دُنیا دارو سره دا هر څۀ وي- بیا چې بعضې غریبانان خلق کله د مالدارو او دنیا دارو عیش او عیاشي او سهولتونه ویني نو د هغوئي پۀ زړونو کښې څۀ داسې خواهشونه راځي: مثلاً اے کاش چې زما سره هم نیټ وے، د نیټ والا موبائل وے، کمپیوټر وے، ټي وي وے نو ما به هم داسې فلمونه ډرامې کتلے، موسیقي به مې اوریدلے، پۀ خپل ګاډي کښې به مې ښکلے ټیپ لګولے او سندرې به مې اوریدلے وغیره-

یاد ساتئ چې د ګناه د پخې ارادې سره انسان ګنهګاریږي اګر که هغه ګناه نه وي کړې، د "ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت" پۀ صفحه نمبر 286 باندې لیکلي دي: کۀ یوه مَجمع د خیر وي (یعنې د نیکانو خلقو اجتماع وي) او هغه لاړ نشي او پۀ خبریدو هغۀ افسوس وکړي نو هُغه همره ثواب به یې کیږي څومره چې د حاضرینو کیږي او که مجمع د شَر وي (یعنې د خرابو خلقو اجتماع وي) او هغه پۀ خپلو نه تللو باندې افسوس وکړي نو څومره ګناه چې د هُغه حاضرینو (یعنې هلته د موجودو خلقو) کیږي هُغه همره به د دۀ هم (کیږي)- (ملفوظات اعلی حضرت، ص 286) پۀ بهارِ شریت حصه 16 صفحه نمبر 615 باندې لیکلي دي: که د ګناه د کار یـې بالکل پخه اراده وکړه کومې

ته چې "عَزم" وئیلے شي نو دا هم یوه ګناه ده اګر چې د کومې ګناه عَزم (یعني پخه اراده) یـې کړې وه هغۀ نه وي کړې- (بہار شریعت، 615/3، حصہ: 16)
پخې ارادې ته عَزم وئیلے شي- چې کله ذهن د یو څیز د حاصلولو د پاره پخه اراده وکړي، نفس هغې ته مائل کړي او د هغې د حاصلولو نیت هم وکړي نو دې ته عَزم (یعني پخه اراده) وئیلے شي- پۀ دې حالت کښې که د نیکۍ اراده وي نو پۀ دې به ثواب میلاویږي او که د ګناه اراده وي نو پۀ دې به پۀ ګرفت کښې راځي، اګر که پۀ څۀ وجه هغۀ هغه ګناه ونکړے شي- (تفسیر صاوی، پ 3، البقرة، تحت الآیۃ: 284، 243/1 ماخوذاً) پۀ دې خبره باندې ځان داسې پوهه کړئ چې د زیارت ورځ تشریف راوړو او د جُمعې پۀ شپه د چا پۀ هفته واره د سُنّتو اجتماع کښې د حاضرۍ معمول وو خو هغۀ پۀ څۀ کار کښې مشغول شو، هغۀ ته یاد نه وو چې هغۀ ته خو اجتماع له تلل وو، ناڅاپه هغۀ ته رایاد شو چې نن خو د جُمعې شپه ده او ما ته پۀ هفته واره د سُنّتو اجتماع کښې شرکت کول وو خو تر هُغه وخته پورې د اجتماع وخت ختم شوے وو- اوس که واقعي هغۀ ته پۀ اجتماع کښې د حاضرۍ د محرومۍ افسوس وشو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! هغۀ ته به د شرکت ثواب میلاویږي، خو که چا د ګناه پخه اراده وکړه مثلاً د فلم کتو پۀ غرض د سینما پۀ لور روان شو خو چې هلته ورسیدو نو معلومه شوه چې خلقو خو فلم کتلے دے او واپس راروان دي، چا ورته ووئیل چې فلم خو ختم شوے دے، د دې اوریدو سره هغۀ پۀ فِلم نه کتو د افسوس اظهار وکړو نو هغۀ ته به د فِلم کتو د پخې ارادې ګناه میلاویږي-

گناہوں نے میری کمر توڑ ڈالی مِرا حشر میں ہو گا کیا یاالٰہی
گناہوں کے امراض سے نیم جاں ہوں پئے مُرشِدی دے شفا یاالٰہی
بنادے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ گناہوں سے ہر دم بچا یاالٰہی
(وسائلِ بخشش، ص 105)

لکه څنګه چې خلق د تنګ لاسی کیلې معنې کوي هم داسې د نزدې خپلوانو په وفات باندې هم د صبر نه کار نه اخستل او ژړا غوغا هم ډېره عامه شوې ده، خصوصاً زنانه مرو ته ډېرې ژاړي، ځانونه وهي او غوغا کوي- که څوک په هسپتال کښې وفات شي نو په هسپتال کښې ښه هنګامه کولے شي او شیشې وغیره ماتولے شي، د هسپتال ډاکټرانو او عملې ته دهمکیانې او کنځلې کولے شي او د هغوئي خلاف چغې وهلے شي حالانکې د داسې کولو سره یقیناً مړے نشي راژوندے کیدے- د انسان مرګ د هغوئي د پسماندګانو د پاره یو لوئې امتحان وي- په داسې موقع باندې صبر کول او خاص طور خُله قابو ساتل ډېره ضروري ده- د صبر نه کولو سره خو د صبر اجر ضائع کیدے شي خو مړے واپس نشي راتلے-

آنکھیں رو رو کے سُجانے والے جانے والے نہیں آنے والے
(حدائقِ بخشش، ص 160)

یاد ساتئ چې د مړي په غم کښې په اوښکو بهیدو کښې هیڅ باک نشته البته ساندې وهل (یعنې د مړي صفتونه د مبالغې سره بیانول او په خوږ اواز ژړل کومې ته چې بیم وئیلے شي) حرام کار دے- (بہارِشریعت، 854/1 ، حصہ: 4 ماخوذاً)

رسولِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د ساندو وهونکو زنانؤ به د قیامت په ورځ په دوزخ کښې دوه صفونه جوړولے شي، یو صف به د دوزخیانو ښي اړخ ته، دویم ګڅ اړخ ته [وي]، هغوئي به دوزخیانو ته داسې غاپي لکه څنګه چې سپي غاپي- ( معجم اوسط، 66/4، حدیث: 5229) په یو بَل ځائے کښې یې ارشاد ووفرمائیلو: که سانده وهونکي د مرګ نه مخکښې توبه نکړه نو د قیامت په ورځ به داسې ودرولے شي چې د هغې یو قمیص به د چیړ د ګوند وي او یو قمیص به یې جَرَب (یعني د خارښ) وي- (مسلم ص 362، حدیث:934)

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د چیړ ګوند وور ډیر زر اخلي او ډیر ګرم هم وي- معلومه شوه چې په نائِحَه (یعني په سانده وهونکو) باندې به په هٰغه ورځ د خارښ عذاب مُسلَّط کیږي ځکه چې دوئي به د ساندو وهلو سره د خلقو زړونه غمژن او زخمي کول نو د قیامت په ورځ به دوئي په خارښ سره زخمي کولے شي- د دې نه معلومه شوه که ساندې عملي وي او که قولي سخت حرام کار دے- اکثر هم زنانه ساندې وائي ځکه عموماً نائِحَه د تانیث (مؤنَّث) صیغه (یعني کلمه ارشاد) کړے شوه- (مرآۃ المناجیح، 503/2)

زَباں پر شکوۂ رنج و اَلَم لایا نہیں کرتے     نبی کے نام لیوا غم سے گھبرایا نہیں کرتے

بعضې وخت داسې هم کیږي چې د چا په وفات کیدو باندې بعضې زنانه په زړۀ کښې خوشحالیږي، ځکه چې د دوئي د مړ شوي ګس سره نا سازي وي، داسې زنانه ډیرې چغې وهي او ژاړي، خو په زړۀ کښې د خوشحالۍ

نه ګوري ماتوي چې ښه وشو چې مړ شو، هيله ترينه خلاص شو، دهٔ به ډير زيات تنګولو، بے پردګۍ او فيشن ته به يې نه پريښودو، شرعي پرده به يې راباندې کوله، پهٔ فلمونو ډرامو او سندرو سازونو اوريدو باندې يې بنديز لګولے وو وغيره وغيره۔

افسوس چې وفا د چا تلونکي پهٔ شان تلې ده، ورور د ورور نه دے، هره ورځ داسې دردناک خبرونه مخې ته راځي چې ځامنو خپل سَکه پلار مړ کړو، ورور ورور ووژلو، د زمکې او جائيداد پهٔ جګړه کښې ډيرو ځامنو پلار ځکه ووژلو چې د هغهٔ جائيداد قبضه کړي او مزې وکړي، زمکه او جائيداد خو يې لاسونو ته څهٔ راشي چې اُلټا ورته هتکړۍ ولګي، پهٔ جيلونو کښې پراته وي او آخر ورته د مرګ سزا ورکړے شي۔

ہے یہ دنیا بےوفا آخر فنا | نہ رہا اس میں گدا نہ بادشاہ
موت ٹھہری آنے والی آئے گی | جان ٹھہری جانے والی جائے گی
قبر میں میت اُترنی ہے ضرور | جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضرور
جب اندھیری قبر میں تو جائے گا | غافل انسان یاد رکھ پچھتائے گا
روئے گا، چِلّائے گا، گھبرائے گا | کام مال و زَر وہاں نہ آئے گا

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پهٔ بوډا توب کښې د انسان اندامونه بے کاره شي، خپلوان ورسره خپلولي پريږدي، خپل پردي يې تول تنګوي، بيمارۍ او ازميښتونه يې د هر اړخ نه راګير کړي، انسان د هر څيز او هر چا نه نا اُميده او مايوسه شي خو افسوس چې د مال محبت د دهٔ پهٔ زړهٔ کښې ځلمے اوسي لکه څنګه چې پهٔ حديثِ پاک کښې دي: انسان بوډا شي خو د دهٔ دوه څيزونه ځوان وي: ﴿1﴾ حرص ﴿2﴾ اوږد اُميد۔ (مسلم، ص 404، حديث: 1047)

پهٔ يو بَل ځائے کښې يې ارشاد ووفرمائيلو: كه د بنيادم سره د سرو زرو دوه دَرې هم وي نو بيا به هم د دريمې خواهش كوي او د بن‌يادم خيټه هم د قبر خاوره ډكولے شي- ( مسلم، ص 842، حديث: 1048 ملخصاً) ډير بوډاګان خلق پهٔ بوډا والي كښې هم بغير د ضرورت نه سخت محنت كوي، حالانكې د بوډا والي پهٔ سبب د هغوئي څرمن راځوړنده شوې وي، چې پوښتنه ترينه وكړې چې چرته ځې؟ نو جواب وركوي چې دُكان ته ځم او حال يې دا وي چې د دوئي سره د نمونځ د پاره وخت نه وي، ګيره مباركه نه پريږدي، چې ترغيب وركړے شي نو وائي چې دُعا كوئ- پهٔ دوئي باندې د نصيحت يوه خبره هم اثر نه كوي، كه بيا بيا يې پوهه كړې نو وائي چې پهٔ مونږ ناوخته كيږي او بيا دكان ته لاړ شي او پهٔ دنياداری كښې مصروفه شي- بيا پهٔ اخبار كښې راشي چې فلانكے د باندز د ګټو پهٔ زوره د اخستو كوشش كښې پهٔ ډزو ويشتلے شو نو داسې د هغهٔ باندز هم لاړ شي او هغهٔ هم ووژلے شي- بيا لاس نيوه كوونكي ځي راځي، خپل پردي ټول يې د مَكر اوښكيږي بهيوي، اِحتجاج كيږي چې ايف آئي آر دې كټ كړے شي، قاتلان دې ونيولے شي او سخته سزا دې وركړے شي وغيره وغيره- يو څو ورځې پس معامله اخوا ديخوا شي او خلق هُغه پيښه هيره كړي او پهٔ خپلو خپلو كارونو كښې مشغول شي-

هم داسې بعضې سوداګر يا د هغوئي بچي اغوا كوونكي اغوا كړي او د تاوان رقم غواړي او پهٔ تاوان نه وركولو باندې د وژلو دهمكياني وركوي بلكې اكثر خو يې ووژني او مړے يې چرته كچرې ته وغورځوي- كه

چرې څوک غریب په لاس ورشي نو د رونګ نمبر ګڼلو سره یې پرېږدي چې دے بخپله کنګال دے نو مونږ له به څۀ راکړي؟ یاد ساتئ چې مُطلقاً مالداره کیدل څۀ عیب نه دے، که انسان د مال په ذریعه حقوق الله او حقوق العباد پوره کوي نو داسې مال به دۀ له فائده ورکوي ګڼې په هلاکت کښې به یې اخته کوي- چا ته چې په دُنیا کښې سهولتونه ورکړے شي نو په هغۀ باندې ازمیښتونه هم سخت راځي د پاره د دې چې د خلقو سترګې وغړیږي- د حِرص کوونکي انسان د ژوند بس هم یو مقصد وي چې بس دُنیا مې ښه شي خیر دے که په دې وجه قبر برباد شي- ځکه په خپل نفس باندې چرې هم اعتماد نه دې کول پکار، څۀ پته لګي چې د دولت راتلو نه پس انسان صرف د دُنیا شي، په حقوق الله او حقوق العباد کښې کوتاهي وکړي، د آخرت د فکر او د قبر او آخرت د معاملو نه غافله شي، د نمونځونو پابندي پرېږدي، په فیشن پرستۍ او حرام خورۍ کښې اخته شي، د الله پاک د یاد نه غافله شي، د قرآن د تلاوت، د ذِکر او درود او نورو نیکو کارونو نه لرې شي او د مال په نشه کښې ورک شي، بیا ورپسې ډاکوان، حسد کوونکي او قلنګ ټولوونکي ورپسې شي وغیره-

نه مجھ کو آزما دنیا کا مال و زر عطا کر کے  عطا کر اپنا غم اور چشمِ گِریاں یارَسُولَ الله
(وسائلِ بخشش، ص 340)

یعنې یَا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږ د مال او دولت راکولو سره په اِمتحان کښې مۀ اچوئ ځکه چې مونږ به د الله پاک په لاره کښې خرچ

نڪړے شو، مونږ له مال او دولت مهٔ راکوئ بلکې مونږ له پهٔ خپل غم او خپل ياد او خپل محبت کښې ژړيدونڪي سترګې راکړئ۔
اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د تنګ لاسیِ ختمولو نُسخې


خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ اوسني وخت کښې ډير خلق د بے روزګاریِ ښکار پهٔ نظر راځي او څوک چې روزګار کوي هغوئي د تنګ لاسیِ پهٔ وجه پهٔ قِسما قِسم آفتونو کښې راګير دي۔ که مونږ د څاخت د نـمونځ کولو عادت جوړ کړو نو د نورو فائدو سره سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ! زمونږ پهٔ رزق کښې هم برکت راشي ځکه چې د رزق حاصلولو او د تنګ لاسیِ ختمولو د پاره د څاخت نـمونځ ادا کول ډير فائده مند او مُجرب دے، حضرت شقيق بَلخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې مونږ د پينځوو څيزونو خواهش وکړو نو هغه مونږ ته پهٔ پينځوو څيزونو حاصل شول (پهٔ هغې کښې يو دا هم دے) چې کله مونږ پهٔ رزق کښې برکت طلب کړو نو هغه مونږ ته د څاخت پهٔ نـمونځ ادا کولو حاصل شو (يعني د هغې پهٔ ذريعه مو پهٔ رزق کښې برکت بياموندو)۔ (نزہۃ المجالس، 166/1 ملتقطاً)

دغه شان د سورۀ واقعه هميشه خاص طور د ماښام د نـمونځ نه پس پهٔ پابندیِ سره لوستل- د تهجدو نـمونځ کول، توبه کول او د سحر د نـمونځ د سُنَّتو او فرضو ترمينځه 70 ځله اِستغفار کول، پهٔ کور کښې آيـَۃُ الـکُرسي

او سورۀ اِخلاص لوستل او په کثرت سره دُرُودِ پاک لوستل په رزق کښې د برکت په اسبابو کښې دي- (سنی بہشتی زیور، ص 609-610 ملخصاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د راتلوکې هفتې رساله




978-969-722-661-0
01082495

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92     0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net